UNAMA
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

**افغانستان: د شکنجې په برخه کې کموالی، مګر لا هم اوږد مزل پاتې دی**

**کابل، د ۲۰۱۹ کال د اپریل ۱۷مه** - په افغانستان کې د شخړو اړوند توقیفیانو سره د چلند په اړه په وروستي رپورټ کې، چې نن ورځ ملګرو ملتونو خپور کړ، د ۲۰۱۶ کال راهیسې د شکنجو په قضیو کې د پام وړ کموالی ښیي مګر د هغه لوړ شمېر توقیفیانو په اړه اندېښنه شتون لري چې په پرلپسې توګه د شکنجې او بد چلند رپورټ ورکوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر ګډ رپورټ، کوم چې د افغان دولت د شکنجې د مخنیوي په پار د شکنجې ضد کنوانسیون د اختیاري پروتوکول د لومړۍ کلیزې په درشل کې خپور شو، " ښیي چې د شخړو اړوند نږدې دریمه برخه توقیفیانو سره ترسره شوو مرکو موثق او باوري معلومات څرګندوي چې دوی له شکنجې یا بد چلند سره مخ دي. دغه رپورټ کې د هېواد د ۲۸ ولایتونو په ۷۷ توقیف ځایونو کې له ۶۱۸ توقیفیانو سره مرکې شوې چې د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر تر ۳۱ مې پورې ترسره شویدي.

رپورټ د حکومت لخوا د شکنجې د له مینځه وړلو په اړه د افغانستان ملي پلان په پلي کولو کې پرمختګ تاییدوي، او په ګوته کوي چې د هېواد په مختلفو امنیتي ادارو کې د شخړو اړوند توقیفیانو سره په بد چلنې او شکنجې ورکولو کې کموالی ددې قانون د پلي کیدو څرګندې پایلې دي.

په ټولیز ډول، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په توقیف ځایونو کې، د هغو توقیفیانو له جملې څخه چې مرکې ورسره شوې، ۳۲ سلنه توقیفیانودشکنجې او بدچلند رپورټ ورکړی، په داسې حال کې چې د تېر ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له لومړۍ څخه د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر تر ۳۱ مې پورې په ورته موده کې دا سلنه ۳۹ وه. یاده دې وي چې دا کمښت په ۲۰۱۸ کې ډېر په ګوته شوی. په ځانګړې توګه، د ملي امنیت په تاسیساتو کې د مرکه شویو کسانو دشکنجې او بدچلنې مخنیوی په ۲۰۱۸ کال کې له ۲۹ سلنې څخه ۱۹ سلنې ته راښکته شوی. د شخړې اړوند بندیان چې د افغان ملي پولیسو لخوا نیول شویدي، د هغو کسانو تناسب چې د شکنجې یا بدچلند رپورټ ورکړی د تېر راپور ورکولو دورې په پرتله له ۴۵ سلنې څخه۳۱ سلنې ته راټیټ شوی. ځوانان د بدچلندۍ له زیات خطر سره مخ وو.

په داسې حال کې چې د قضیو په شمېر کې کمښت هڅونکی دی، رپورټ یادونه کوي چې" شکنجې یا ناوړه چلند کې د پام وړ کمښت ندی راغلی چې وښیي ترسره شوي اقدامات بسنه کوي." وهل ټکول د شکنجې او ناوړه چلند تر ټولو معموله بڼه ښودل شوې ده. ډېری توقیفیانو ویلي چې دوی ددې لپاره شکنجه یا ورسره بدچلند شوی ترڅو دوی اعتراف ته مجبور کړي او له اعتراف وروسته ورسره بدچلني دریدلي.

د توقیف ځایونو موقعیت ته په کتو، لوی توپیرونه شتون لري. په منځنۍ توګه، د افغان ملي پولیسو ۳۱ سلنه توقیف ځایونو څخه د شکنجې یا بدچلند رپورټ ورکړل شوی، په داسې حال کې چې په کندهار کې دملي پولیسو توقیف ځای کې د شکنجې د وحشیانه ډولونو، لکه خپکی کولو، برقي شاکونو، له تناسلي آلې څخه د راښکلو او د کوټې له چت څخه د را ځوړندولو په ګډون ۷۷ سلنه د اندیښنې وړ شکنجې ادعاوې شوې دي.

پداسې حال کې چې رپورټ په کندهار او هرات کې د ملي امنیت توقیف ځایونو کې د پام وړ پرمختګونو څخه یادونه کوي، خو د کابل، خوست او سمنګان ولایت د ملي امنیت په توقیف ځایونو او د تروریزم ضد ملي امنیت په اداره کې د شخړو اړوند توقیفیانو سره چلند لا هم د اندیښنې وړ دی. رپورټ د غیرقانوني، خپل سري او ډله ییزو نیونو بیلګې هم په ګوته کړي، چې د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو او د خوست د ساتنې ځواک لخوا ترسره شوي دي.

رپورټ همدا شان په پروان کې د افغان ملي اردو د توقیف ځای د نامناسب وضعیت، لکه د زیاتې ګڼې ګوڼې، د رڼا د کمښت، او یوازیتوب کې د توقیفیانو ساتلو او د کورنۍ له غړو سره د لیدلو او مدافع وکیل ته لار لاسرسي په اړه اندېښنه ښودلې.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي، تدامیچي یاماموتو وویل: "موږ د هغو اقداماتو هرکلی کوو چې د حکومت لخوا د تیرو دوو کلونو په موده کې دشکنجې او بد چلند د مخنیوی او په دې برخه کې د قضیو د څیړلو په موخه تر سره شوي. په هرصورت، لکه څرنګه چې زموږ راپور یې څرګندوي، د شخړو اړوند توقیف ځایونو کې د دې ناوړه کړنې د له منځه وړلو لپاره لا هم اوږده لاره پرته ده." نوموړي زیاته کړه: "د قانون حاکمیت او بشري حقونو ته درناوی د تلپاتې سولې لپاره د شرایطو برابرولو تر ټولو غوره لاره ده."

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

رپورټ په نورو برخو کې په سرغړونو او ننګونو ټینګار کوي، د دوی په منځ کې قضايي نظارت ته د شخړو اړوند د توقيف شویو کسانو پر حقونو محدودیت؛ د شکنجې د مخنیوي لپاره د قانوني مصؤنیتونو او نورو کلیدي طرزالعملونواو قوانینو نه پلي کول (روغتیايي معاینات، وکیلانو ته لاسرسی، او داسې نور)؛ د محاکمې لپاره خورا محدودې مراجعې سره د مرتکبینو لپاره د حسابولی دوامداره نه شتون؛ او د اغیزمنې عدلي او اداري حل لارې د ترلاسه کولو لپاره د معتبره امکاناتو نشتوالی.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنرې، میشل باشلیټ وویل چې د رپورټ موندنې ښیي چې د شکنجې او ناوړه چلند پر وړاندې جوړې شوې پالیسي ګانې د شکنجې او بد چلند سره مبارزه کې اغیز لري - مګر کافي نه دي.

باشلیټ زیاته کړه: "یو کال وړاندې، په همدې ورځ، د افغانستان دولت د شکنجې د مخنیوي په پار د شکنجې ضد کنوانسیون د اختیاري پروتوکول د پلې کولو ژمنه وکړه."

"زه له حکومت څخه غواړم چې ډېر ژر د مخنیوي یو ملي میکانیزم رامنځته کړي، تر څو له توقیفیانو سره د چلند خپلواکه او بې پرې څارنه یقیني شي. د څارنې یوه داسې مجهزه اداره، چې وکړای شي له توقیف ځایونو څخه ناڅاپي لیدنې وکړي او د هغه پوهاوي کچه لوړه کړي چې د بشري حقونو نړیوال قانون سره سم شکنجه او بد چلند ته ویل کیږي، او په بشپړ ډول د شکنجې د له منځه وړلو هدف ته د رسیدو لپاره اوږد مهاله کار وکړي."

دغه رپورټ د دولت ضد عناصرو لخوا د جګړې اړوند توقیفیانو د حالت او له هغوی سره د چلند په اړه بحث نه کوي.

* * *

بشپړ رپورټ، "د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د منځه وړلو په وړاندې د افغانستان د ملي پلان تطبیق" دلته دلاسرسي وړ دی:

https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody

* * *

*یوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره ملاتړ کوي. د سیاسي ماموریت په توګه له خپل ماموریت سره سم، یوناما د شخړې مخنیوی او حل، د ونډې اخیستنې د زیاتیدو او ټولنیز یووالي او همدارنګه د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي. دا ماموریت د اغیزمنې حکومتدارۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. یوناما د استقلالیت، بې پرې والي او یوالي د اصل په پام کې نیولو سره د ډیپلماتیکو اقداماتو په کڅون د شخړو د زیاتیدو او پراخیدو دمخنیوي په موخه ' د ښه نیت چارې' او نور کلیدي خدمتونه برابروي. دا ماموریت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوالې مرستې همغږې کوي.*